# تأسی غواړی چه په حقیقت پوه شی؟

په کوم حقیقت؟ حقیقت د هغه سوالونو کوم چه تر پخوا زمانو څخه خلکو ته پاتی شویدی؟ کیدای شی تاسی ته هم داسی سوالونه پیدا شوی وی:

- أیا خدای زمونږ غم خوړونکې دی؟
- أیا داسی وخت به راشی چه دا جنګونه او ګړاونه پای ته ورسیږی؟
- څه پیښیږی کله چه انسان مړ شی؟
- أیا د مړو لپاره کوم امیئد شته دی؟
- باید څنګه دعاْ خدای ته وکړو چه هغه یئ واوری؟
- په ژوند کی به څنګه نیکمرغی تر لاسه شی؟

ستاسی په نظر به د دی سوالو ځوابونه چیرته باید ولټول شی؟ تر ننني ورځ پوری خلکو ډیر کتابونه لیکلی او هر یو لیکونکی د دی کتابو أدعا کوی چه د دی سوالو ځوابونه د دوئ سره شته دی. مګر د هر یو لیکونکی نظر د بل لیکونکی سره توپیر لری. او کله چه مونږ دا کتابونه لولؤ ځنی د دوئ څخه مونږ ته معلومیږی چه دا د احتمال (صحیح) وړ دی. مګر د یو څه وخت د تیریدونه وروسته دا کتابونه خپل ارزښت د لاَسه ورکوی.

لاکن یو کتاب شته دی چه هغه پوره د باور وړ دی. او پدی کتاب کی ټول رښتیا لیکل شویدی. عیسیٰ علیه السلاَم یو وخت خدای ته په عبادت کی ؤ او وویل «ستا کلاَم حقیقت دې» (یوحنا ۱۷:۱۷). دا د خدای کتاب د «تورات، زبور، انجیل» پنامه یادیږی. راځه چه وګورو دا کتاب د پورته ذکر شوی سوالو څومره روښانه او د باور وړ ځوابونه ورکوی.





## آیا خدای زمونږ غم خوږونکی دی؟

ولی داسی سوال پیدا کیږی؟ نن په نړۍ کی بی رحمی او بی انصافی ډیره پر مخ تللی. ډیر خلک داسی وایی چی پدی کی د خدای رضا وه.

د خدای کلاَم څه وایی. خدای هیڅ چاته بدی نه رسوی. «خدای نشی کولی چه ظلم وکړی، او قادر مطلق، بی انصافی» د ایوب علیه سلام په کتاب کی لیکل شوی (ایوب ۱۰:۳٤). خدای غواړی چه د انسان لپاره ښکلی ژوند جوړ کړی. عیسیٰ علیه سلاَم د دعا په باره کی داسی وویل: «ای په آسمان کی زمونږ پلاره ... ستا بادشاهی دی راشی. ستا مرضی دی په ځمکه پوره شی» (متی ۹:٦، ۱۰). اللّٰه پاک دومره د خلکو سره مینه وکړه چه خپل نازولی یی د قربانۍ لپاره ځمکی ته ولیږه. دا پدی خاطر چه خپل پلان سر ته ورسوی (یوحنا ۳:۱٦).

او همداسی وګوری پیدایش ۱:۲٦–۲۸؛ یعقوب ۱:۱۳ او اول خط د پطرس ٥:٦، ۷.

## آیا داسی وخت به راشی چه دا جنګونه او ګړاونه پای ته ورسیږی؟

ولی داسی سوال پیدا کیږی؟ په جنګونو کی ډیر خلک مړه کیږی. د خلکو ربړیدل هر انسان ته درد رسوی.

د خدای کلام څه وایی. خدای وعده ورکوی چه د ځمکی د مخ ټول جنګونه به پای ته ورسیږی. کله چه د ځمکی په سر خدای خپل حکومت ودروی، هلته به هیڅ څوک د «جنګ زده کولو هڅه ونکړی». دوی «به د خپل شمشیر څخه پال (قلبه) جوړ کړی» (اشعیا ۲:٤). اللّٰه پاک ټولی بی انصافی او ګړاونه پای ته رسوی. د هغه په کلام کی لیکل شویدی: «هغه [خدای] به د هغوئ د سترګو ټولی اوښکی وچی کړی، هلته به نه مرګ، نه ویره، نه ژړا او نه درد وی ځکه چه وړومبی څیزونه [په همدی ډول بی انصافی او ګړاونه] تیر شویدی» (مکاشفات ۲۱:٤).

او همداسی وګوری زبور (مزامیر) ۳۷:۱۰، ۱۱؛ ٤٦:۹ او میکاه ٤:۱–٤.



## څه پیښیږی کله چه انسان مړ شی؟

ولی داسی سوال پیدا کیږی؟ ډیر خلک پدی عقیده لری چه کله انسان مړ شی د هغه ارواح خپل ژوند ته اعدامه ورکوی. او ځنی پدی ایمان لری چه مړی کولی شی چه ژوندو ته زیان ورسوی. او ګناه کاره خلک خدای د دایم لپاره دوزخ ته غورځوی.

د خدای کلام څه وایی. کله چه انسان مړ شی د هغه نه ارواح نه کوم بل څه ژوند ته دوام نه ورکوی. سلیمان علیه سلام وویل: «مړی په هیڅ نه پوهیږی» (جامعه ۹:٥). چه مړی په هیڅ نه پوهیږی، او هیڅ نوعه احساس نشی کولی په همدی لحاظ دوئ ژوندو ته نه فایده رسولی شی او نه تاوان (زبور [مزامیر] ۱٤٦:۳، ٤).

او همداسی وګوری پیدایش ۳:۱۹ او جامعه ۹:٦، ۱۰.

## آیا د مړو لپاره کوم امید شته دی؟



**ولې داسې سوال پيدا کيږي؟** مونږ غواړو چه اَبدی ژوند وکړو او هغه ځوک چه په مونږ ګران دی د دوئ سره يو ځای د ژوند څخه لذت واخلو. دا زمونږ طبعی آرزو ده چه هغه زموږ پلارونه، ميندی او نور نژدی دوستان کوم چه مرګ زمونږ څخه اخستی دی بيا ورسره کتنه وکړو.

**د خدای کلام څه وايي.** داسی وخت راتلونکی دی چه ډير مړی به د قبرو څخه پورته شی. عيسی عليه سلام داسی وعده کړی چه: «ځوک چه په قبرونو کی دی به د ده آواز واوری ... راپورته کړی شی» (يوحنا ۲۸:۵، ۲۹). د قبر څخه پورته شوی خلکو ته دا امکان برابريږی چه د ځمکی په سر جنت کی ژوند وکولای شی. کوم چه اللّٰه پاک تر لمړی نه دا نيت کړی ؤ. برسيره پر دی اللّٰه پاک ته اطاعت لرونکی خلک به د پوره صحت لرونکی او د أبدی ژوند خوندان شی. د خدای کلام داسی وايي: «نيک خلک د ځمکی وارثی کوی، او تل به پکی اوسی» (زبور [مزامير] ۲۹:۳۷).

او همداسی وګوری ايوب ۱۴:۱۴، ۱۵؛ لوقا ۱۱:۷–۱۷ او اعمال د رسولانو ۱۵:۲۴.

## بايد څنګه دعا خدای ته وکړو چه هغه يی واوری؟



**ولې داسې سوال پيدا کيږي؟** تقريباً د ډيرو مذهبونو طرفداران خدای ته په دعا کی دی مګر ډيرو ته معلوميږی چه د دوئ دعا ته خدای ځواب نه ورکوی.

**د خدای کلام څه وايي.** عيسی عليه سلام مونږ ته وښودل – چه په دعا کی تکراری جملی مه ګردانوئ، هغه وويل: «په دعا کی ... تکرار مه کوئ» (متی ۷:۶). که چيری مونږ وغواړو چه اللّٰه پاک زمونږ دعا واوری بيا داسی رجوع بايد ورته وشی چه د هغه په رضا وی. د دی لپاره مونږ ته لازمه ده چه پوه شو چه د خدای رضا په څه کی ده چه د هغه په مطابق دعا وکړو. د يوحنا رسول اول خط ۱٤:۵ کی ليکل شوی: «که مونږ د هغه [خدای] د مرضی په مطابق سوال ترينه کوو نو هغه زمونږ اوری».

او همداسی و ګوری زبور (مزامير) ۲:۶۵؛ يوحنا ۱٤:۶، ۱٤ او خط د يوحنا اول ۲۲:۳.

## په ژوند کی به څنګه نيکمرغی تر لاسه شی؟



**ولې داسې سوال پيدا کيږي؟** ډير خلک پدی نظر کی دی چه د انسان نيکمرغی په بډايی، شهرت او ښکلی ظاهری شکل کی ده. دوئ ډيره هڅه کوی چه دا ټول تر لاسه کړی مګر نيکمرغی ته رسيدلی نشی.

**د خدای کلام څه وايي.** عيسی عليه سلام وښودل چه واقعی نيکمرغی په څه کی ده. هغه وويل: «نيکمرغی د هغه چا په برخه ده ځوک چه خدای ته د نژدی کيدو اړتيا ولری» (متی ۳:۵، نږد). مونږ کولای شو چه په واقعی نيکمرغه شو په هغه صورت کی کله چه خپل اړتيا د خدای د حقيقت د پيژاندلو زده کړه او د هغه مفکوره کوم چه د انسان په باره کی ده رفعه کړو. دغه حقيقت د خدای په باره کی د هغه په کلام کی ليکل شويدی. کله چه په دی رښتيا پوه شو بيا کولای شو چه توپير وکړو چه څه په ژوند کی مهم دی اوڅه مهم نه دی. که چيری مونږ د خدای د کلام په مطابق عمل وکړو بيا زمونږ ژوند به د معنی څخه ډک وی (لوقا ۲۸:۱۱).

او همداسی وګوری امثال سليمان ۵:۳، ۶، ۱۳–۱۸ او اول خط تمطاوس ته ۹:۶، ۱۰.

مونږ په مختصر ډول ولیدل چه د خدای کلام دغه شپږو سوالو ته څنګه ځواب ورکړ. تاسی به غوښتل چه زیات معلومات تر لاسه کړئ؟ که چیری تاسی دا أرزو لرئ بیا تاسی د هغه خلکو په جمله کی حسابیږئ، هغه څوک چه خدای ته د نژدی کیدو اړتیا لری. کیدای شی تاسی ته سوالونه پیدا شی، چه خدای دومره مهربانه دی ولی بیا په دنیا کی دومره بی عدالتی او کړاونه موجود دی؟ څه باید وکړو چه زموږ فامیل نیکمرغه شی؟ د خدای کلام د دغسی او نورو سوالو د قناعت وړ ځوابونه ورکوی.

لاکن نن ډیر خلک د خدای کلام ته توجو نکوی په دی خاطر چه دوئ د دی سره أشنا نه دی. ته غواړی چه تا سره مرسته وشی او د خدای د کلام څخه ستا د سوالو د قناعت وړ ځوابونه پیدا کړی؟ د یهوه شاهیدان دوه ډوله د مرستی پشنهاد کوی.

لمړی – دغه کتاب «د مقدس کتاب تعلیم» پدی خاطر تاکل شوی چه د هغه خلکو کوم چه وخت یی محدود وی د خدای د کلام په مطابق د خپلو سوالو ځوابونه ځانته حاصل کړی. دوهم – د خدای د کلام وړیا زده کړه کول. د یهوه شاهدان کولای شی چه په هره هفته کی ستاسی کور ته درشی او یا کوم بل ځای ته چه تاسی ته راحت وی لږ لږ به د خدای د کلام څخه څیړنه کوی. داسی رقم زده کړه کولو تر اوسه ملیونو خلکو ته مرسته رسولی ده. ډیر تعداد ددی جملی خلکو څخه اوس په اطمینانی ډول ویلی شی چه: «زه په حقیقت باندی پوه شومه».

د خدای کلام حقیقت دا هغه ګنج دی چه هیڅ بیه نلری. دا مونږ د تشویش او زړه ځورونکی ډار څخه آزادوی. دا مونږ ته اَمیئد، خوشحالی او د ژوند معنی را کوی. عیسی علیه سلام وویل: «او تاسو به په حقیقت پوهه شئ او حقیقت به تاسو آزاد کړی» (یوحنا ۳۲:۸).



